قطعنامه

کنفرانس مطبوعاتي

ولسمشره! هلمند وژغوره

ریس جمهور! هلمند را نجات دهید

بسم الله الرحمن الرحیم د ځوانانو

د ځوانانو د همغږی او پیاوړتیا شبکه قطعه نامه

د ځوانانو د همغږی او پیاوړتیا شبکه چې له مختلفو مدني نهادونو، مدني فعالینو او رونړ اندو ځوانانو نه تشکیل شوې، او د هېواد په اکثریتو سیمو کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول فعالیت کوي،دا ځل د هلمند ولایت د ولایتي شورا او مدنی فعالینو په ملتیا د هلمند ولایت د ستونځو مخصوصاً ورستیو امنیتی پېښو په اړه د خپل انساني او ملي احساس او مسؤولیت په درک سره، نن ورځ د (ولسمشره! هلمند وژغوره) ترسرلیک لاندې مطبوعاتي غونډه د نوموړي ولایت په ملکي او نظامي څانګو کې د سمون او بدلون لپاره جوړه کړه، چې په پایله کې خپله قطعه نامه په لاندې ډول اعلانوي:

۱-مرکزي حکومت باید ډیر ژر یو بیطرفه حقیقت یاب پلاوی وټاکي او د یوې بیطرفې څېړنې پر اساس دې د نوموړي ولایت په ملکي او نظامي څانګو کې اساسی تغیرات رامینځ ته کړي.

۲-مرکزي حکومت باید ډیر ژر د هلمند ولایت په محلي اداره کې د فساد او مافیا پر ضد ګامونه اوچت او ژر تر ژره دې د خیالي نظامي تشکیلاتو مخنیوی وکړید هلمند ولایت نظامي سکتور باید له سیاسي مداخلو خلاص او د رهبرۍ له پلوه یې باید پراخ اصلاحات او اساسی تغیرات رامنځته شي، هغه نظامي مسؤولین چې په فساد او نورو جرمونو تورن دي باید ژر تر ژره محاکمه شي.

۳-د ملی پولیسو او ملی اردو د اکمال، اعاشه او اباتي په برخه کې باید پراخه څېړنه وشي، د څېړنې پایله دې ملت ته اعلان او د هغې پر اساس تورن کسان باید محاکمه شي، د دې تر څنګ دې یو منظم سیستم د سرتیرو د اکمال، حقوقو او امتیازانو په برخه کې رامینځ ته شي.

۴-مرکزي حکومت مکلف ده چې د هلمند ولایت سرتیرو ته د جګړې پر مهال لازمه د هوایي ځواک مرسته ورکړي، تر څنګ یې د ۲۱۵ نمبر قل اردو باید د ګرشیک او خانشین لور ته تمرکز پیدا کړي او د امنیت د لا ټینګښت لپاره دې د سیمې له خلکو د نظم عامه دوې نورې لېواګانې جوړې او په لازمو ځایونو کې مستقرې شي.

۵-دا چې د هلمند ولایت مساحت پراخ دی، نظم او اداره کول یې ستونځمن دي، مونږ د ملي وحدت حکومت ته وړاندیز کوو چې د نورموړي سیمې د لاښه مدیریت او انتظام لپاره دې یا د نوموړي ولایت اداره او نظامي تشکیلات پراخ شي او یا دې هلمند ولایت پر دوو ولایتونو وویشل شي ترڅو نوموړي سیمه چې له جغرفیایي لحاظه یوه ډیره مهمه سیمه ده پوره تر خپله ولکه لاندې راوستل شي.

Facebook:
youths coordination and empowerment network

0799000347

دفتر مرکزی شبکه هماهنگی و توانمندی جوانان
بلاک های روهین سلیمان، عقب هوتل سقره افغان، پوهنتون
دعوت، چهارراهی قمبر، کابل - افغانستان

قطعنامه

کنفرانس مطبوعاتي

۶-د ملی وحدت حکومت دې له امریکا سره د امنیتي تړون په برخه کې ملت ته سپیناوی ورکړي، که چېرې امریکا او ناټو دې ته ژمن نه وي چې د افغانستان د امنیت په ټینګښت کې به مرسته او همکاري کوي، پدې صورت کې باید د امنیتي تړون پر انعقاد له سره غور وشي.

۷-د ملي وحدت حکومت دې هرځومره ژر چې کیږي د امنیتي سکتور خلیګاوې په مناسبو اشخاصو ډکې کړي، تر څو نومورې اشخاص د قانوني صلاحیت له مخې د هېواد د امنیت په ټینګښت کې کوټلي ګامونه اوچت کړي

۸-دا چې د همغږی نشتون د روانو ناخوالو له عواملو نه یو عامل دی، پر دې اساس حکومت باید په دو بیلو ساحو یو د امنیتي سکتورونو تر مینځ د همغږی او بل د مرکزي حکومت او محلي ادارو تر مینځ د همغږی دوې بیلې طرحې جوړې او عملي کړی تر څو د نه همغږی تشه په ښه توګه ډکه شي

۹-خلاص سرحدات د دې لامل کیږي چې دښمن او ګاونډي هېوادونه په آزاده توګه هېواد ته هر نوع خطر ایجاد کړي، حکومت باید د خلاصو سرحداتو د تړلو لپاره تر کومه چې امکان لري لازم عملي ګامونه اوچت کړی

۱۰-مورِ ددې هېواد د اصلي اتباعو او اوسیدونکو په توګه له وسلوالو مخالفینو ددې غوښتنه کوو چې له جګړې نه لاس واخلي، له ملت او دولت سره یوځای دې د دې هېواد په ثبات او پرمختګ کې برخه واخلي، پر افغان ځوانانو، مدني ټولنو، مشرانو او علماء غږ کوو چې له خپلو ملي امنیتي ځواکونو څخه په قاطعیت ملاتړ وکړي.

په پایله کې مورِ ځوانان د ملي وحدت له حکومت نه په جدي توګه غوښتنه کوو چې د دې هېواد د ثبات او پرمختګ لپاره دې د پورتنیو مواردو په عملي کولو کې کوټلي ګامونه پورته کړي او د نه عملي کیدو په صورت کې به مورِ له هرې ممکنې مدني قانوني لارې د خپلو غوښتنو د عملي کولو لپاره ګامونه اوچت کړو او پرې به نږدو چې نور د دې مظلوم ولس پر سر لوبې وشي.

و من الله توفیق چهارشنبه،

د جدي د میاشتې دوهمه، ۱۳۹۴ یم کال

Facebook:
youths coordination and empowerment network

0799000347

دفتر مرکزی شبکه هماهنگی و توانمندی جوانان
بلاک های روهین سلیمان، عقب هوتل سقره افغان، پوهنتون
دعوت، چهارراهی قمبر، کابل - افغانستان